**بسم الله الرحمن الرحيم**

**فلسطين د خپلواکۍ له اعلان 30 کاله وروسته!**




**(ژباړه)**

د 1988م د نومبر په 15مه یاسر عرفات د الجزایرو په پلازمېنه، صنوبر ماڼۍ کې فلسطین د خپلواک دولت په توګه، چې پلازمینه به یې قدس وي اعلان کړ. ده د استقلال اعلامیه -چې د فلسطین تکړه شاعر محمود درویش لخوا لیکل شوې وه- په ملي شورا کې ولوسته. په دې اعلامیه کې داسې لیکل شوي و: «د الله په نامه د فلسطین عربان د فلسطین پر خاوره د فلسطیني دولت تاسیس چې پلازمینه به یې قدس شریف وي اعلانوي.» او په دغه اعلامیه کې ښکاره د اشغالګرو شړل، د حاکمیت ځواکمنتیا او استقلال ته درناوی یاد شوی و.

اوس د کاغذ پر مخ د خپواکۍ د اعلان 30 کاله کېږي. اوس باید وګورو چې د فلسطین د مسالې عملي واقعیت په کومه کچه دی؟ په یوه لنډه کتنه کې به څرګنده شي، له هغه وخته چې د فلسطین قضیه د ازادۍ غوښتونکي سازمان او د فلسطین خپل سرې (خود ګردانه) ادارې لاس ته لوېدلې، فلسطین او خلک یې له ډېرو کړاوونو سره مخ دي:

**د جغرافیایي ولکې له مخې:** د فلسطین د احصایې د مرکزي ادارې د رپوټ پر بنسټ، چې د 2016م په مې میاشت کې خپور شوی و، د فلسطین خاورې 85 سلنه مساحت چې له 27000کیلو متره څخه زیاته کېږي د یهودي دولت په ولکه کې ده. یوازې 15سلنه خاوره د فلسطیني وګړو تر ولکې لاندې ده. که چېرې له هغه وخته د یهودو د ښارګوټو جوړونې د پرمختګ کچه په دې شمېرو ور زیاته کړو، نو بیا به زموږ لپاره پاتې مساحت د تصور هم نه وي او د فلسطین د خلکو یاده فیصدي به له نظري پلوه هم یوه فرضیه وي. دا هغه څه دي چې د یهودو د دولت لومړی وزیر نتنیاهو یې اړ کړ، څو په دې وروستیو کې د نښتو عملي تګلاره او د خلکو هیله، د کانتونیانو او فلسطیني قصباتیانو خپلواکي او د خپل سري حکومت جوړول؛ عنوان کړي.

**د قدس شریف اصطلاح:** یوه لفافه (پټه او ګونګه خبره) ده، چې قدس ته نږدې مقدس ځایونه یا د غربي قدس پر ځای شرقي قدس محدودوي. د فلسطین ازادیخوا سازمان او خودګردانه(خپل سرې) اداره یې د عامه افکارو د بې لارې کولو لپاره کاروي. دا داسې څه دي چې د امتیاز له تر لاسه کولو مخکې، جوړجاړی تحمیلوي. که د یهودیانو لخوا په قدس ښار کې د ښارګوټو جوړونې او د قدس یهودي کېدو کچې ته وګورو، دغه راز د ټرامپ لخوا قدس د یهودو د دولت د پلازمینې په توګه له پېژندلو هم ښکاري، چې د فلسطین د پلازمینې په توګه د قدس فکر کول نیږدې د خوب لیدل دي. د خپلواکۍ د اعلان 30 کال کېږي؛ خو قدس لا هم پوره د یهودیانو په لاس کې دی. له ځینو پرته چې هغه هم د اشغال د شرطونه او معیارونه ومني بل څوک حتا فلسطینیان قدس ته د ورننوتو اجازه نه لري.

**خپلواکۍ ته درناوی او د حاکمیت د ټیکاو لپاره مبارزه:** له 30 کالو وروسته د پام وړ رسوایۍ سره مخ دي. مبارزې د نڅا او له یهودو سره د اړیکو د عادي کولو په جشنونو بدلې شوې. د مقاومت خبرو، خپل ځای له اشغال سره د بیت المقدس امنیتي همغږۍ ته ورکړی. خودګردانه ادارې د ځان لپاره واقعي ذلیلتوب په درې بعدي بڼه رسم کړی. تر دې چې افسران او قومندانان اشغال او د هغوی د جیبونو دساتلو او ورته لاره موندنې رول لوبوي. د امنیتي فعالیتونو تشکیلات اشغالساتنې ته ځانګړي شوي. په بې شرمۍ د هغوی د امنیت ساتنې او له ښارګوټو او کاروانونو څخه ساتنه کېږي. دا په داسې حال کې ده چې امنیتي ځواکونه خپل تشکیلات، چې زرهاوو تنو ته رسیږي، خپلې خاورې او د فلسطین د خلکو له ساتنې پټ او بې مسوولیته دي.

**له سیاسي پلوه:** د تشکیلاتو تاسیس او په رسمیت پېژندلو یې د یهودیانو شتون او اشغال قانوني کړ. د یهودي دولت تر څنګ په نړیواله توګه د فلسطیني دولت د په رسمیت پېژندلو خبره وشوه. د یهود دولت قانوني مساله؛ د فلسطیني اداري، عربو او مسلمانانو د حاشیو خبرې دي. تر دې چې اوس بېګانه اشغال په اصلي او رېښه دار اوسېدونکي بدل شوی. دا د خپلواکۍ اعلامیه وه، چې اسلامي نړۍ ته یې د یهودي دولت د سیاسي ورتګ لپاره رسمي ټکټ ورکړ.

د ازادۍ غوښتونکو سازمان او ملي شورای لخوا د خپلواکۍ د اعلان فکر پخپله یوه مسخره وه، ځکه د هغه سازمان او شورا خلک چې د یهودو له اجازې پرته د فلسطین په مقدسه خاوره کې د تګ را تګ توان نه لري، نو څه ډول کولای شي پر دغه خاوره خپلواکي اعلان کړي؛ بلکې دا د دې قوم پوچ مغزي او ځانته سپکاوی دی چې کوي یې؛ ځکه دولت د کاغذ پر مخ نه جوړېږي. خپلواکي په پیغام نه اعلانیږي. مساله له بې ځایه خبرو او کاغذي اسنادو تېره ده. د دولت ستنې د بانک میدانونه، جګړه او د واقعي ازادۍ میدانونه جوړوي. هغه میدانونه چې الله سبحانه وتعالی یې پر جوړولو، د اشغال له چنګلې څخه د مبارکو خاورو پاکولو او رېښنو اېستلو امر کړی دی.

خو دوی د وسلو خبرې او د وسلو غږ په شعارونو او له موسسو څخه په غوښتنو، د عربي او نړیوالو جنایتکارو له استازو سره په ملګرتیا بدلې کړې. له داسې کسانو سره اړیکې نیسي، چې د غاصب یهود دولت بنسټ یې اېښی او د سوکاله ژوند وسایل یې ورته برابر کړي دي.

د خپلواکۍ له اعلان څخه 30کاله وروسته حالت داسې پاتې دی؛ هغه تشکیلات چې د حاکمیت او قدرت له پلوه په نشت حساب دي. د غریب دروېزګر په څېر، امریکا او نړۍ ته لاس غځوي، څو د یهودو د دولت تر څنګ یې د یوه تشریفاتي او بې بنسټه دولت په توګه ومني. د داسې رژیم تر څنګ چې د فلسطین پر ټوله خاوره حاکمیت او قدرت لري. دوی فکر کوي، چې په دې ډول به پر یهودو ښه وخت تېرېږي، امنیت به لري او مسلمانان به هم ارام شي. یوځای اوسېدنه او همغږي لکه د رومانتیکو فېلمونو او شعري صحنو پیلېدل دي.

د فلسطین قضیه پرته له دې چې کاملاً له اشغال څخه ازاد شي بله د حل لار نه لري. هغه حلاره چې یوازې د ځواکمنو ځواکونو او جهاد په وسیله تر لاسه کېږي. هغه ازادول چې الله سبحانه وتعالی یې مسلمانانو ته امر کړی. هغه به -که الله سبحانه وتعالی کول- ډېر ژر وشي.

**ليکوال: باهر صالح**

**1440ه.ق د ربيع الاول 14مه**

**2018م د نومبر 21مه**

**ژباړن: حبيب الله**